# التكوير

**مکی سورة دی ۲۹ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا ٱلشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ ١

**کله چې لمر راونغښتل شی( او رڼا او تودوخه یې له منځه لاړه شی).**

وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتۡ ٢

**او ستوری خړ پړ، بې نوره او خواره واره راوغورځی.**

وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ سُيِّرَتۡ ٣

**او غرونه( له بیخه راونړیږی او) روان شی.**

وَإِذَا ٱلۡعِشَارُ عُطِّلَتۡ ٤

**او کله چې د لسو میاشتو بلاربې اوښې( چې د عربانو تر ټولو ارزښتناکه سرمایه ده، او همدا شان د هر عصر ارزښتناکه او قیمتی شتمنی) بې صاحبه پریښودل شی .**

وَإِذَا ٱلۡوُحُوشُ حُشِرَتۡ ٥

**ټول ځنګلی حیوانات( د خپل طبیعی خصلت له مخې په تیښته او وارخطایۍ) یوه ځای ته راټول شی( نه به زمریانو او لیوانو ته د داړلو زور پاتې وی او نه به مارانو ته د چیچلو).**

وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ سُجِّرَتۡ ٦

**بحرونه به اور واخلی او سره لمبه به شی( یعنې د الله تعالی په امر به د اوبو د جوړښت دوه ستر ګازونه اکسیجن او هایدروجن بیرته له یوه بله جلا او د اور په لمبو بدل شی).**

وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتۡ ٧

**او ارواح به( له بدنونو سره) یو ځای( او بیرته راژوندی کړی) شی.**

وَإِذَا ٱلۡمَوۡءُۥدَةُ سُئِلَتۡ ٨

**او له ژوندۍ خښې کړی شوې انجلۍ نه به پوښتنه وشی.**

بِأَيِّ ذَنۢبٖ قُتِلَتۡ ٩

**چې په کومه ګناه وژل شوې وه؟( او هغه به خپل داستان بيان کړي چې پلرونو يې د جاهليت په زمانه کې په څومره ظلم او بې رحمۍ وژلې او يا يې ژوندۍ ښخه کړې ده).**

وَإِذَا ٱلصُّحُفُ نُشِرَتۡ ١٠

**او( د حشر په ميدان کې د خلکو)عملنامې پرانستل شي.**

وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ كُشِطَتۡ ١١

**له آسمان نه پرده پورته شي.**

وَإِذَا ٱلۡجَحِيمُ سُعِّرَتۡ ١٢

**د جهنم اور په غرغندو شي.**

وَإِذَا ٱلۡجَنَّةُ أُزۡلِفَتۡ ١٣

**او جنت رانږدې کړی شي.**

عَلِمَتۡ نَفۡسٞ مَّآ أَحۡضَرَتۡ ١٤

**نو( په همدغه وخت کې به) هر سړی پوه شي چې کوم( ښه او بد) اعمال يې له ځان سره راوړي دي.**

فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلۡخُنَّسِ ١٥

**قسم په بيرته ستنيدونکو ستورو( زحل، مشتری، مريخ، زهره او عطارد چې د ورځې د لمر په نور کې پټ او په سترګو نه ليدل کيږي).**

ٱلۡجَوَارِ ٱلۡكُنَّسِ ١٦

**په هغو ستورو چې چټک ځغلی او د افق شاته پټیږی.( راجح قول دا دی چې ټول ستوری خنس او کنس دی ځکه ټول د ورځې پټ او د شپې روښانه وی).**

وَٱلَّيۡلِ إِذَا عَسۡعَسَ ١٧

**او( قسم) په شپه چې لاړه شی( او ځی راځی).**

وَٱلصُّبۡحِ إِذَا تَنَفَّسَ ١٨

**(قسم) په سهار چې څرک ووهی( او پخپل نور سره د شپې توره پرده ونغاړی).**

إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ ١٩

**چې دا قرآن د یوه بزرګوار او محترم استازی( جبرئیل په وسیله محمد صلی الله علیه وسلم ته راوړل شوی الهی) کلام دی.**

ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي ٱلۡعَرۡشِ مَكِينٖ ٢٠

**( جبرئیل)هغه پیاوړی( رسول) چې د عرش د څښتن( الله تعالی) په حضور کې لوړ مقام او منزلت لری.**

مُّطَاعٖ ثَمَّ أَمِينٖ ٢١

**د ټولو پرښتو د احترام او اطاعت وړ او( پخپلو ورسپارل شویو وظایفو کې) د باور وړ او امانت دار دی.**

وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجۡنُونٖ ٢٢

**او( ای د مکې خلکو!) ستاسو ملګری( محمد صلی الله علیه وسلم) لیونی او سودایي نه دی( که مبارک قرآن په غور ولولی درته به ثابته شی چې دا د کوم لیونی خبری نه دی).**

وَلَقَدۡ رَءَاهُ بِٱلۡأُفُقِ ٱلۡمُبِينِ ٢٣

**( په دې خبره هم قسم یاد شوی چې محمد صلی الله علیه وسلم په خوب کې جبرئیل نه دی لیدلی، بلکه هغه یې په ویښه) د افق په روښانه لمن ( پخپله اصلی څیره کې )لیدلی دی.**

وَمَا هُوَ عَلَى ٱلۡغَيۡبِ بِضَنِينٖ (٢٤)

او( محمد صلی الله علیه و سلم) د وحی شویو غیبی حقایقو( د الله تعالی د ذات او صفاتو، د پرښتو، بعث بعدالموت، قیامت، جنت او دوزخ او الهی احکامو) په ابلاغ او اورولو کې هم بخیل نه دی.

وَمَا هُوَ بِقَوۡلِ شَيۡطَٰنٖ رَّجِيمٖ (٢٥)

او نه دا قرآن د کوم رټل شوی شیطان خبرې دی.

فَأَيۡنَ تَذۡهَبُونَ (٢٦)

نو( که تاسو له قرآن نه مخ وګرځوئ او انکار ترې وکړئ) کومه خوا به لاړ شئ؟

إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ (٢٧)

قرآن د ټولو نړیوالو لپاره پند او نصیحت( بلکه د هدایت مرجع ده).

لِمَن شَآءَ مِنكُمۡ أَن يَسۡتَقِيمَ (٢٨)

(په ځانګړې توګه) د هغو کسانو لپاره چې( د ژوند په ټولو چارو کې) په سمه لار تلل غواړي.

وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ (٢٩)

او دغه هیله مو هم یوازې د( الله تعالی) رب العالمین په مرسته پوره کولی شئ.

« تمت سورة التکویر بفضل الله و عونه»

====================